# رسول الله صلى الله عليه وسلم پر هغې (ښځې ) لعنت ویلی چې نورو ته اضافي ویښتان نښلوي او یا له نورو غوښتنه کوي چې دې ته یې ونښلوي، او هغه چې خالونه وهي او یا له نورو غوښتنه کوي چې خالونه ورته ولګوي

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم پر هغې (ښځې ) لعنت ویلی چې نورو ته اضافي ویښتان نښلوي او یا له نورو غوښتنه کوي چې دې ته یې ونښلوي، او هغه چې خالونه وهي او یا له نورو غوښتنه کوي چې خالونه ورته ولګوي.
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څلور ډوله خلکو ته خبراوې کړي چې الله تعالی یې لعنت کړي او د خپل رحمت څخه یې وشړي او لرې یې کړي. لومړی: هغه ښځه چې ځان او یا بلې ښځې پورې اضافي ویښتان نښلوي. دویم: او هغه چې له بلې غوښتنه وکړي چې نور ویښتان ورته کېږدي. دریم: هغه خال لګوونکې ښځه چې د بدن په یو ځای کې په ستنه خالونه ږدي لکه: مخ، لاس او یا سینه او بیا پکې رانجه او داسې نور مواد ږدي، تر څو هغه ځای شین واوړي او یا زرغون رنګ ته واوړي؛ دا کار د ښایست په موخه کوي. څلورم: هغه ښځه چې له نورو غوښتنه کوي دا کار ورته وکړي. او دا کړنې له کبیره ګناهونو څخه دي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee